پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۱/۰۹/۰۴

# د (کړنلاره که تګلاره؟) په اړوند غبرګونونه

څو ورځې وړاندی می د (کړنلاره که تګلاره؟) تر سرلیک لاندی یوه لیکنه په یو شمیر افغانی سایټونو کی نشر شوه. په لیکنه ما د «تګلاری» ایتیمولوژی را سپړلی وه او دی پایلی ته رسیدلی وم چی دا اصطلاح د خپلی اوسنی مسما سره چی « اساسنامه » دی، هیڅ ډول سمون نلری او پکار ده چی دا اصطلاح د « مرامنامی، برنامی . .» د پاره وکارول شی. هلته می دا هم لیکلی وه چی خپل استدلال می د محترم زیار صاحب سره چی دا مهال د پښتو لغاتونوپر ایتیمولوژۍ باندی کار کوی او په پښتو کی یی نیولوجیزم ته ډیر پام اړولی دی، په تلیفون کی شریک کړ. زیار صاحب هم دادی منت راباندی واچاوه او د نوموړی لیکنی په لوستلو سره یی خپل غبرګون وښود. نوموړی غبرګون یی په یوشمیر افغانی سایټونو کی لکه (ګران افغانستان)، (دعوت) او نورو کی خپور شوی وو چی کټ مټ کاپی یی داده:

« پوهاند ډاکتر مجاور احمد زیار
د نوزادي صاحب په غبرګون کې

که(تګلار) او(کړنلار) سره یو دبل پرځای وکارول شي، ببځایه به نه وي!
دا ترخه یا خوږه منښته په کار ده چې پښتو له ټولواکمنې تربرۍ(پارسي) ژبې سره د رغنده سیالۍ لپاره تل دېته اړوتې چې د پوهې- فرهنګ نومهالو نومونو(اصطلاح ګانو) په تړاو یې اړوندې رغاونې ځانته مخبېلګه کړي. موږ د (یوې پښتو- کره پښتو) د غورځنګ په لومړیو کې د(ګرامري یورنګی_ لغوي رنګارنګۍ) دوو غبرګو معیاري آرونو د سمبالتیا په موخه یوه پرله غښتې_ ژبپوهنیزه وییرغاونه( نیولوجېزم) د خپلې(کړنلارې) او(تګلارې) نه بیلدونکې برخه بللې وه. داود خاني سیاسي_فرهنګي سانسور دېته اړېستو چې ان (شاهراه) هم پر(لویه لار) واړوو. ملګرو هڅه کوله چې تر هرڅه له مخه سیاسي نومونې له آر جاج او مفهوم سره سمې راوژباړي، هغه وه چې رفیع صاحب د (ښکبلاک) د (استعمار) او(زبېښناک) د (استثمار) ځایناستی کړ. خو (کړنلار) یې د پارسي (برنامهٔ عمل) تر اغیزلاندې د(مرامنامې) لپاره رامنځته کړه، او پټلیز یې ورسره(تګلار) هم د(اساسنامې) د انډول په توګه.

لکه ښنګه چې ما ګران لیکوال دوست نوزادي صاحب ته په تلفون کې ور څرګنده کړه، په کارده، دغه دواړې نومونې نورې له (غلط مشهور) دوده راووځي او لږ ترلږه سرچپه وکارول شي.

نو، اوس زه هم د (مانوکي ملاصاحب) غوندې پردغ(اجتهاد) نور ټینګار نه کوم، مرامنامه به ورسره(تګلار) کړم او (کړنلار) به هم(تګلار). د عربي(خط المشی) یا پارسي(خط مشی، مشی) سیاسي ترمونو پښتو انډول(دریځ) دود موندلی دی. هرګوره، د (کړنلارې) لویدیز انډولونه (پروګرام، مانیفیست، مانفستو program,manifest,manifesto دي چې لغوي ماناوې یې زموږ له(مرامنامې) یا(کړنلارې) سره دومره اړخ نه لګوي.
له دې لامله دې ژبنی منطق ته مخه کوو چې اړینه نه ده، هر نوم(اسم) دې له خپل نومولي(مسما) سره سل په سل کې اړخ ولګولای شي، ټاکلي جاج و مانا ته ارزښت ورکول په کار دي او بس!

په ګرده پښتني- افغاني مینه او مننه.
ستاسې د ګردو زیار(اکسفورډ، د زمری ۲۸مه)

له ده نه پرته یو زیات نورو کسانو چی د لیکوالی او سیاست سره سروکار لری، هم په تلیفون یا ایمیل کی زما لوړ استدلال او وړاندیز تائید کړی دی. د همدی کبله لکه ښنګه چی ټولو افغانی سایټونو خپل نشراتی مرام ( تګلاره ) بللی، فکر کوم ښه به دا وی چی لږ تر لږه لیکوالان او دسیاسی ګوندونو د محترمومسئولینو پرته نور کسان پسله دی نه د (مرامنامی) د پاره د (تګلاری) اصطلاح و کاروی نه د (کړنلاری). د سیاسی ګوندونو محترم مسئولین می پدی خاطر جدا کړه چی د اکثرو سیاسی ګوندونو مسئولین یوازی د کلاسیک سیاست سره بلد دی او هر ډول نووښتونو ته تل د تورو عینکو دلاری ګوری، ځکه نو هغوی ته ان د وړاندیز جرئت کول هم راته سخت کار بریښی. په دی خبره سره کوم ځانګړی ګوند او یا دهغه مسئول ته ګوته نه نیسم ، بلکه خبره می عامه بڼه لری.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

اندیوالان می همدارنګه کله ناکله د ځینو اصطلاح ګانو په اړه چی د محترم زیار صاحب په لیکنو کی یی ترسترګو شوی وی، پوښتنه را نه کوی. خو زه به داګړی کوښښ وکړم یوازی د (ایتیمولوژی) او (نیولوجیزم) په هکله چی د لوړی موضوع سره تړاو لری، تر هغه ځایه چی زه ور باندی پوهیږم، یو څو کرښی ولیکم . که خدای مکړه د نیګړتیاوو سره مل وی، هیله ده اړوند پوهان یی بشپړ کړی:

١ – ایتیمولوژی Etymology :

ایتیمولوژی (آرپوهنه) یوه لرغونی یونانی کلمه ده چی (ایتیمو) یی د رښتینوالی، واقعیت، صحیح، درست او باور په مانا، او (لوجی) یی د علم او پوهی په مانا راځی. محترم زیار صاحب چی د اوسنی ژوندیو پښتو ژبپوهانو په ډله کی یی پدی اړوند ډیری څیړنی کړیدی، دده په لیکنو کی ایتیمولوجی د (آرپوهنی) پنامه یاده شویده چی ښایی موخه به یی د لغاتونو د لومړنی اصلی ریښی سپړل وی. داهغه څه دی چی د ایتیمولوجی د لرعونی یونانی مفهوم سره سمون لری.

آرپوهنه دا د لغاتونو د ریښی پیژندنی هغه علم دی چی دیوی ژبی د لغاتونو تاریخ څیړی. په نورو کلمو سره ویلای شو چی ددی علم د متودونو په مټ د یوه لغات داسی اړخونه تر څیړنی لاندی نیول کیږی لکه: لغات کله او د کومی سرچینی د لاری و نوموړی ژبی ته راننوتی دی، د وخت په تیریدو سره یی په بڼه او مانا کی کوم بدلونونه منځته راغلی دی. دا ټول هغه څه دی چی یوازی د آرپوهنی د علمی شننو او تاریخی – مقایسوی متودو پر بنسټ تر سره کیږی. کله چی لا د آرپوهنی علمی متودونو پوره وده نه وه کوی، اکثره وختونه د لغاتونو ریښی د حدس وهلو او خیال له مخی پیداکیدلی. دبیلګی په توګه په ١٨ پیړۍ کی د تریدیاکوفسکی پنامه یو روسی ژبپوه پدی باور وو چی د (ناروی) هیواد نوم د روسی کلمی (نارویخیا Нарвихия) څخه ریښه اخلی چی مانا یی لوړوالی دی او داځکه چی د ناروی هیواد د دنیا د نقشی په لوړه برخه کی پروت دی. ده همدارنګه فکر کاوه چی د ایټالیا نوم هم روسی ریښه لری چی د (اودالیا Удалия) څخه اخیست شویدی او دا بیا د ( لیری ) مانا ورکوی ، داځکه چی د ایټالیا هیواد له روسیی څخه خورا لیری پروت دی.

هغه وخت چی د مسکو په دولتی پوهنتون کی محصل وم، موږ داسی فکر کاوه چی ډیر روسی نومونه له پښتو نه ریښه اخیستی ده لکه مسکو (روسی یی <u>مسکووا</u>) د پښتو (مه څکوه) څخه، تاشکند د پښتو (تشه کنده)، ویسکی (وڅکي) او نور. ښکاره خبره ده چی دا ډول حدس او خیال د واقعیت سره سمون نلری او واقعیت بیا د ایتیمولوجی بنسټ جوړوی.

٢ – نیولوجیزم Neologism:

دا هم لرغونی یونانی کلمه ده چی (نیو) یی د نوی او (لوګ) یی د وینا یا لغات مانا ورکوی. نیولوجیزم د ژبپوهنی داسی یوه لار ده چی پر بنسټ یی کیدلای شی په ژبه کی د یوه یا څو موجودو لغاتونو دترکیب څخه یو داسی نوی لغات جوړ شی چی په ویلو او لیکلو کی د کارولو وړتیا او د ژبی د بډایولو توان ولری. که چیری د ژبی کوم موجود لغات ته د مناسبو کارولو نوی مانا ورکړل شی، داکار هم دنیولوجیزم په دندو کی راتلای شی. په پښتو کی د څو موجودو لغاتو څخه په نوی مانا سره د یوه نوی مرکب لغات ښه بیلګه همدا (تګلاره) ده چی د (تګ) او (لاره) څخه ترکیب مومی او یوه نوی مانا ورکوی لکه مرامنامه، برنامه، پروګرام. تجربی ښودلی ده، هغه نوی لغاتونه د پایښت او تل پاتی کیدو وړتیا لری چی د یوی خوا یی کارول موزون وی او له بلی خوا اسم دمسما سره بی تړاوه نه وی. که داسم او مسما تر منځ تړاو په پام کی ونیسو، نو زه د (اساسنامی) د پاره هم (کړنلاره) یوه مناسبه او په رښتنی توګه یوه پشتو انډوله اصطلاح نه بولم. خدای دی وکړی پدی خبره راته زیار صاحب په قهر نشی.

دعلم او تخنیک د پرمختیا سره سم د نیولوجیزم پربنسټ باید د ژبی قاموس په پرله پسی ډول بډای شی کنه نو ژبه د نوو اړتیاوو له مخی د کارولو توان دلاسه ورکوی او کرار کرار په یوه مړه ژبه اوړی.

پای



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ